# د مینې

# تاو

لیکوال:
داکتر معمار حشمت الله اتمر
میاشت – سلواغه / کال۱۴۰۳

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیکي پوهه:

**سرلیک:** د مینې تاو
**لیکوال:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**اېډېټور:**
**د پښتنۍ ډیزان:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۱۰۰
**چاپ نېټه:** میاشت - سلواغه / کال ۱۴۰۳
**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ
ښوونې ترې د کټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

# لړليک

**سرليک** **چوپړی**

**پخښتیٍ.................................................................... ١**
**بسم الله الرحمن الرحيم ................................................... ٢**
**ليکي پوهه:.............................................................. ٣**
**لړليک .................................................................. ٤**
**ترانې (پيل، شروع، بريد)................................................... ٥**
**د يادښتونو له پاره:......................................................... ٧**
**نا اندوله (ناول، کېسه يا داستان) ........................................... ٨**
**د چاپ شويو کتابونو لېست.............................................. ٧٠**
**د کار لاندې کتابونو لېست ............................................. ٧٣**
**د امکان او وخت په صورت کې.......................................... ٧٤**
**د پخښتیٍ څټ ........................................................... ٧٥**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تراڼ (پيل، شروع، بريد)**

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِه .

بې پايه ستاينه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاينات يې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقيقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پيدايښت يوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجوديت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسيدو جوهر په يوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ يوه له لوړو وسيلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل يو بل حقيقي داستان يا ناول چې کيسه يې په هېواد کې د ننه تېره شوې ده، د خپلو کتابونو مينوالو او لوستونکو سره شريکه کړم. زما د کتابونو مينه وال يوازې معماران او انجينران نه دي، نه بايد اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو ليکونو کې توپير راوړم چې د هرې ځانګې مينه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې ليکنې مې توپير و لري او هم به مې مينه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مینې تاو

.........................................................................

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه يې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هیله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره شریکه کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مينې تاو

..........................................................................

**د يادښتونو له پاره:**

۱- ..........................................................................

۲- ..........................................................................

۳- ..........................................................................

۴- ..........................................................................

۵- ..........................................................................

۶- ..........................................................................

۷- ..........................................................................

۸- ..........................................................................

۹- ..........................................................................

۱۰- ..........................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

**نا انډوله (ناول، کېسه يا داستان)**

د دوبي شپې وې.

هوا خورا توده وه.

د نن په شان برېښنا هر چېرې او خاصتآ ولايتونو په ولسواليو کې نه وه.

هرې خوا تياره وه.

يوازې د پخواني الکين رڼا وه.

يوه اميندواره ښځه په کټ کې پرته وه.

شاو او خوايې د کلي زړې ښځې را غونډې شوې وې.

ټول لاس په کار وو.

يوې ښځه چې په زېږون کې يې ځانګړې تجربې اومهارتونه درلودل، تر ټولو د مخه او نورو ته به يې مشورې ورکوې.

ځو ګړۍ تېرې شوې.

د هغې ماشوم دنيا ته راغی.

هغه يوه ښکلې جلۍ وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

مشرې ښځې ټولو ته مبارکي ورکړه.

بيا يې نورو ښځو ته و ويل:

ژر (چابکه) شئ.

شيره جوړه کړئ.

ښځو هم شيره جوړه او په کاچوغې سره يې د جلۍ مور ته په ورکولو پيل کړ.

هغې چاړه راواخسته او د جلۍ نو يې پرې کړ.

بيا يې يوه سپېڅلی ټوکر واخيست او هغه ته يې اور، ورته کړ.

وروسته د هغه ټوکر ايره يې واخيسته او د هغې په نو يې کېښوده.

بيا يې نورو ښځو ته و ويل:

زما ټيکري د غوټې نه سپيلني واخلئ او په يوه لوښي کې يې واچوئ.

مور او ماشومې ته، ښه دود وکړئ.

ښځو ومنه.

بيا هغې و ويل:

که اجازه مو وي، غواړم پر دې ښکلې جلۍ نوم، رڼا کېږدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو ومنه.

بيا هغې، جلۍ مور ته و ويل:

**ښنګه!**

نوم دې خوښ شو.

د جلۍ مور و ويل:

**هو!**

خوښ مې شو.

خورا ښکلی نوم دی.

زما خو ډېر خوښ شو.

مننه کوم چې زما سره مو مرسته وکړه.

هغه په خندا شوه او و يې ويل:

دا زما دنده ده چې د ښځو په زېږون کې مرسته وکړم.

شپه تېره شوه.

هر څه ښه پر مخ تلل.

کومه ستونځه نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کلي نورې ښځې خپلو کورونو ته لاړل.

د زيږون ښځه پاتې شوه او د يوې اونۍ د پاره يې درنا او د هغې د مور خدمت کوه.

نورې ښځې به هم راتلې.

د هغوی سره به يې د کور په کارونو کې مرسته کوه.

رنا د مور مشر اولاد هم نه و.

رنا يې لمړنی ماشوم و.

مياشت تېره شوه.

د کلی ښځو خپلو مرستو ته دوام ورکړ.

تر څو پوره څلوېښت ورځې او شپې تېرې شوې.

مشرې ښځې رنا د مور سره د څلوېښتۍ په غسل کې هم ورسته وکړه.

د رنا مور پر پښو ودرېده او کولای يې شو چې خپلې دندې په خپله تر سره کړي.

د کلي ښځې به راتلې او د هغې سره به يې مرسته کوه.

څه وخت تېر شو.

رنا په خبرو او ګرځېدو راغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................................................................

هغې به خپلې مور ته څه سپک کار هم کاوه.

رڼا درې کلنه شوه.

هغه هوښیاره جلۍ وه.

هغې د کلي د مشرې ښځې نه و غوښتل تر څو هغې ته یوه کوچنۍ جاړو (جارو) جوړه کړی.

هغې و منه.

هغه د کلي ځنډ ته لاړه چېرې چې د جاړوګانو بوټي ول.

هغې یوه کوچنۍ جاړو د رڼا له پاره جوړه او بېرته کلي ته ستنه شوه.

بیا د رڼا کور ته د ننه او جاړو یې هغې ته ورکړه.

رڼا جاړو واخیسته او ډېره خوشحاله شوه.

بیا یې د کوټې په جاړو کولو پیل کړ.

مشرې ښځې و ویل:

بس کړه!

کوټه پاکه ده.

زه درته وایم چې په کوم وخت کې یې جاړو کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې و منه.

بیا یې خپله جاړو واخیسته او د سترې جاړو خوا ته یې کېښوده.

مشرې ښځې و ویل:

آفرین!

ته کولای شې خپلې مور ته خوراکي شیان نږدې کړې.

رنا و ویل:

سمه ده.

کال بل هم تېر شو.

د رنا بله خور هم دنیا ته راغله.

رنا یو څه غټه شوې وه.

هغې به هم کلي د مشرې ښځې سره مرسته کوه.

څو کاله تېر شو.

د رنا پلار په کابل ښار کې پر دنده و ګمارل شو.

هغه پرېکړه وکړه تر څو کابل ښار ته خپله کورنۍ ولېږدوي.

د هغوی کورنې کابل ښار ته لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

د ښار په یوې سیمې کې، په کرایي کور کې ژوند پیل کړ.

د رڼا پلار هوډ (اراده) درلوده چې خپل ماشومان په ښوونځي کې شامل کړي.

تر څو هغوي څه زده او په خپلو پښو ودرېږي.

خپل ځان او هېواد ته ګټه ورسوي.

هغوی کوشنیان(ماشومان، معصومان) وو.

په سیمې کې کوم ښوونځی هم نه و.

پلار یې کوښښ وکړ تر څو بلې سیمې ته لاړ شي، چېرې چې هغه د کار ځای ته نږدې وې.

څه وخت تېر شو.

هغه ته خدای زوی په برخه کړ.

د رڼا پلار به تر ناوخته کار کاوه تر څو ډېرې پیسې وګټي او ځانته په کابل ښار کې کوشنی (کوچنی) کور جوړ او یا واخلي.

څو کاله نور هم تېر شو.

هغه څه پیسې ټولې او د کابل ښار په یوې سیمې کې یې څه ځمکه واخیسته.

بیا یې پر هغې کار پیل او لږ، لږ به یې جوړاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوې کاله وروسته کور بشپړ شو.

هغوی د کرایي کور د ستونزو نه خلاص او خپل کورته د اوسېدو له پاره لاړل.

البته هم ډېر نږدې ښونځې نه وه.

یوه ښوونځې د پوخ سړک په غاړه و.

په ښوونځي کې الکان او جونې یوه ځاې سبق ویل.

د رڼا پلار خوښ نه و چې د هغې لورګانې د الکانو سره په یوه ځای کې سبق و وایي.

د هغه دوې لورګانې د ښو ونځي له پاره په مناسبو سننو کې وې.

د هغه زوی خورا کوشنی او د ښوونځي د تګ، نه و.

د کلي نورو کسانو خپلې لور ګانې ښوونځي ته لېږې.

مګر د رڼا پلار د داسې کار نه ډډه کوه.

څه وخت تېر شو.

د رڼا پلار بل ولایت ته د کار له پاره و ګمارل شو.

د هغه تنخوا تر کابل ښار نه ډېره وه.

هغه ومنه.

بیایې سوچ وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

که چېرې هغه د کابل ښار نه بل ولایت ته سفر وکړي، څنګه به شي.

د هغه ماشومان واړه دي.

ښځه يې هم بې زده کړې ده.

د کور سودا به ورته څوک راوړي؟

يوه ورځ يې په سوچونو کې تېره کړه.

بيا يې د ښځې سره مشوره وکړه.

د رڼا پلار و ويل:

کېدای شئ خپل ورور ته بلنه ورکړم تر څو له مونږ سره په غولي (حوېلۍ) کې ګډ ژوند وکړي.

هغه به تاسو ته د کور سودا، د ستونزو او ناروغۍ په وخت کې مرسته وکړي.

هغې و ويل :

سمه ده!

کومه ستونزه نشته!

بيا د رڼا پلار خپل ورور پسې چې په يوه ختيځ ولايت کې ژوند کوه، لاړ.

د هغه سره يې وليدل.

بيا يې د هغه نه غوښتنه وکړه چې د ده سره ګډ ژوند وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و منه او پر سبا کابل ته راغی.

د رڼا پلار ډېر خوشحاله شو او هغه ته یې و ویل:

تا هم څه زدکړې کړي دي.

زه به تا ته هم کار پیدا کړم.

د هغه ورور هم خوشحاله شو.

څو ورځې تېرې شوې.

د رڼا پلار خپل ورورته هم دنده پیدا کړه او په کار یې و ګماره.

اونۍ وروسته د رڼا پلار په سفر لاړ.

رڼا د پلار ورور به ماشومانو په پالنه او روزنه کې مرسته کوه.

د هغه هم دوې مشرې لورګانې وې.

هغه هم نه غوښتل چې د ورور او خپله لور په هغه ښونځي کې شامله کړي، چېرې چې الکان او جونې سره په یوه ټولګي کې سبق وایي.

دوې کاله نور هم تېر شو.

پاچاهي په جمهوریت بدله شوه.

د جمهوریت لارښونه د سردار محمد داود خان په غاړه وه.

هغه ډېر بدلونونه راوستل او کوښښ یې کوه چې هېواد پرمختګ وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د الکانو او جونو ښو ونځي په کابل ښار کې هم، سره جلا کړل.

پخوانی ښونځی د جنو په نامه پاتې او الکانو د پاره په بله سیمه کې یوه لویه کلا په کرایي ډول و نیول شوه.

الکان ټول نوي ښوونځي ته ور وپیژندل شوو.

دوي کاله وروسته د رڼا پلار بېرته کابل ته راغی.

بیا یې د ورور سره مشوره وکړه تر څو رڼا، د هغه خور، او د ورور لور، په ښوونځي کې شامله کړي.

هغه و منه او ویې ویل:

ښه به دا وي چې سبا ښوونځي ته لاړ او د هغوي په هکله د ښونځې د مدیرې سره خبره وکړو.

درڼا پلار و ویل:

کومه ستونزه نشته.

هرکله کولای شو چې هغوی په ښوونځي کې شامله کړو.

وروریې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی سنونه تر لس کلنۍ ډېر شوي دي.
کېدای شي کومه ستونځه وي.
شپه تېره شوه او سهار شو.
د رنا پلار ښوونځي ته لاړ او له مدیرې سره یې خبرې وکړې.

هغې و ویل:
د ماشومانو تذکرې راوړه، تر څو وګورم څو کلنې دي.

د رنا پلار و ویل:
هغوي تذکرې نه لري.

د ښونځې مدیرې و ویل:
بې له تذکرو، نه شو کولای کومه کړنه تر سره کړو.
دا د هېواد د معارف قانون دی.

د رنا پلار و ویل:
سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به لمړی د هغوی له پاره تذکرې واخلم او بیا به تا سو ته مراجعه و کړم.

هغه د ښو ونځي د مدیرې نه مننه وکړه او له ښو ونځي نه و وت.

هغه کورته راغی.

بیا یې له ښځې سره مشوره وکړه تر څو هغوی ته تذکرې واخلي.

هغه ډیر بوخت و او د تذکرو اخیستو له پاره اړین و د څو ورځو له پاره خپل کلي او و لسوالۍ ته لاړ شي.

تر څو هغوی ته تذکرې واخلي.

بیا یې و ویل:

اوس خو نه شم کولای، بیا به لږ وروسته شل شپې خپله رخصتي واخلم، کلي ته به لاړ او د جنو له پاره به تذکرې واخلم.

څو کاله نور هم تېر شو.

د رڼا پلار د ستونزو سره، سره و توانید تر څو د هغوي له پاره تذکرې واخلي.

بیا هغه تذکري د ښو ونځي ادارې ته ویوړې.

مدیرې ټولې تذکرې په ځیر سره وکتې او و یې ویل:

اوس ناوخته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

مونږ نه شو کولای چې په دې سن کې هغوی په ښو ونځي کې شامله کړو.

د هغوی عمرونه تر دولس هم او چت دي.

د داسې جونو له پاره مونږ په هېواد کې نور او ځانګړي ښوونځي لرو.

تاسو کولای شئ ،خپلې جونې (ږونې) هلته شاملې کړئ.

څه موده نوره هم تېره شوه.

د رڼا پلار د ځانګړو ښوونځیو پته و مونده، کومه چې له هغې سیمې نه خورا لرې وه.

د رڼا پلار موټر هم نه درلود او هم مشر زوی، چې هغوی تر ځانګړي ښوونځي پورې و رسوي.

همدا راز، په کور کې د هغوی شتون ته هم اړتیا وه، تر څو اوړه لامده، ډوډۍ پخه او کتغ وکړي.

په دې توګه هغوی ښو ونځي د تګ نه پاتې شوې.

څه موده ورسته ورور یې په ښوونځي کې شامل شو.

رڼا به د هغه سره تر ښوونځي، تله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مینې تاو

.......................................................................

په رخصتۍ وخت کې به د هغې ورور د نور ټولګیوالو سره یو ځای بېرته کورته، راته.

وختونه تېرېدل او رڼا هم لوېده.

د کور په کړونو کې خورا تکړه او په هر څه پوی شوې وه.

هغې کالي ګنډل، خامک، ګراف، بنیان اوبدل هم زده کړل.

کال وروسته د هغوی کورته، ترور یې د خپل کوشني زوی سره رایبارۍ ته راغلل.

هغوی له ځانه سره دوې ټوکرۍ راوړې وې.

په لمړۍ ټکرۍ کې خواږه او پاخه اینځر او په بله ټکرۍ کې یې تازه، شنه او ترخه مرچ ول.

ترور یې د خپلې خور سره په خبرو اترو کې یاده کړه چې:

زه د ستا لور ګانو د پاره رایبارۍ ته راغلې یم.

ستا دوې لوڼې پېغلې دي.

هر یوه چې ستا او یا د جونو خوښه وي، غواړم د سیمې د رواج سره سم خپل مشر زوی ته رایباري و کړم.

د ترور خور یې و ویل:

زه کومه ستونزه نه لرم؛

خو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................................................................

ښه به دا وي چې د جونو پلار، راشي او د هغه په مشورې سره به مخ ته، لاړ شو.

د رڼا ترور و پوښتل:

کله به د رڼا پلار راشي؟

خور يې ګړۍ ته و کتل او ويې ويل:

نيمه ګړۍ وروسته به هغه راشي.

د رڼا ترور خوشحاله شوه او ويې ويل:

خدای مهربانه دی چې مونږ بېرته خوشحاله لاړ شو.

نيمه ګړۍ تېره شوه او د رڼا پلار کورته ورسېد.

د رڼا پلار د خينې سره ستړی مشې وکړه، هغې او د هغې زوی ته يې ښه راغلاست و وايه.

هغوی په خوړو کيسو بوخت وو.

خينې يې بيا خبره تازه کړه.

د رڼا پلار و ويل:

زه کومه ستونزه نه لرم.

ښه به دا وي چې ته په خپله د جونو سره خبرې وکړې.

هر يوه چې راځي وي، زه هم راځي يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

بیا د رڼا ترور د هغې د مور نه اجازه واخیسته او په بلې کوټې کې یې د جونو سره په جلا، جلا توګه خبرې وکړې.

بیا هغه ناهیلې بېرته د میلمه کوټې ته ستنه شوه.

د رڼا پلار و پوښتل:

تا د جونو سره خبرې وکړې؟

هغې و ویل:

هو!

مګر پایلې یې ښې نه وې.

د رڼا پلار و پوښتل:

کومه ستونزه وه؟

هغې و ویل:

هو!

د رڼا پلار و پوښتل:

ستونزه په څه کې وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې و ويل:

ستا لور ګانې په ښار کې لوې شوې دي.

هغوی وايي:

مونږ د بې زده کړو سړی سره واده نه کوو.

زمونږ مېړه هرو مرو، روغمن (داکټر) او يا هم انجينر وي.

بيا د رڼا پلار خپلې ښځې ته و ويل:

ته لاړه شه او د جونو سره په خپله خبرې وکړه.

هغه لاړه او د جنو سره يې خبرې پيل کړې.

د جونو ځواب هم هماغه يوه ځواب و.

بيا مور يې هغوی ته و ويل:

تاسو هم بې زده کړې ياست.

تاسو چېرې کوم د طب يا د انجينرۍ پوهنځی لوستی دی.

رڼا چي له بلې خور نه مشره وه ويې ويل:

دا خو زمونږ ګناه نه ده.

ګناه ستاسو ده.

که چېرې مونږ دې په ښوونځي کې شامله کړي وای، اوس به روغمنانې او انجينرانې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................

مور يې و ويل:

دا کړنه به د ستاسو په نصيب کې نه و.

هغوی په کلکه د رايبارۍ سره مخالفت وکړ.

مور يې بېرته ستنه شوه.

خپلې خور او مېره ته يې کيسه، بيان کړه.

د رنا پلار و ويل:

په داسې مسلو کې د جونو موافقه له ديني اصولو سره هم اړينه ده.

بيا د ترور کوچنی زوی چې خپلې مور سره راغلی و، خپه او خپلې مور ته يې و ويل:

پاڅې!

بېرته کور ته ځو.

د رنا پلار او مور يې کوښښ وکړ تر څو هغوی شپه پاتې شي، ځکه چې هغوی د لرې ځای نه يانې (يعنې) بل و لايت نه راغلي وو.

هغوی و نه منه.

بيا د رنا ترور و ويل:

مونږ دوې ټکرۍ راوړې وې .

په يوې کې اينځر او په بله کې يې ترخه مرچ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................

موږ پلان درلود که چېري رايباري و منۍ، موږ به اينځر پرېږدو او مرچ به له ځانه سره بېرته يوسو.

د دې کبله چې زموږ رايباري ښه پايله نه درلوده، مرچو ټکرۍ دې هم د تاسو وي.

بيا يې خدای پاماني واخسته او د کوره و وتل.

د دوبي ورځې او وخت مازيګر و.

هغوي په ډېرو ستونزو سره لمړی د سيمې موټرو هډې، بيا خپلې سيمې ته ماسخوتن نا وخته ورسېدل.

هغوی د څو کالونو د پاره سره خپه و، تر څو چې خپل زوی ته يې بل چېرې ښځه وکړه او په واده کې يې خپلې خور او کورنۍ ته هم بلنه ورکړه.

واده په بل ولايت کې تر سره شو او يواځې د رڼا مور او پلار په کې ګډون کړی و.

رايباران به راتلل او تلل، مګر د رڼا او د هغې د خور په اندو کې کوم بدلون را نه غی.

هغوي د روغمنانو او انجينرانو په تمه وې.

يوه ورځ د رڼا کور ته، پلار د ترور زوی راغی، کوم چې د کابل په پوهنتون کې د يوه پوهنځي زده کړيال (محصل) و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

د هغه سترګې په ناڅاپي ډول پر رڼا ولګېدې کوم وخت چې هغه د غولي په جاړو کولو بوخته وه.

هغه د الک په سترګو کې ښه ولګېده او د کوره د وتو په وخت کې يې د رڼا پلار ته و ويل:

څرنګه چې پوهېږې، زه دلته مسافر او د پوهنتون په شپې خونې (ليلې) کې ژوند کوم.

دلته زما خپل او خپلوان نه شته، کولای شم کوم وخت دلته ستاسو کور ته راشم؟

د رڼا پلار و ويل:

هو!

کولای شئ.

کوم و خت چې زه په کور کې اوسم.

هغه و ويل:

سمه ده!

همداسې وخت کې، کوم وخت چې ته په کور کې اوسې.

د هغه تګ او راتګ به کله، کله تر سره کېده.

هغه به په مياشت کې يوه ځل او يا دوې ځلي د پنجشمبې په ورځ راته او د جمعې شپه به يې هم تېروه او د جمعې په مازيګر به بېرته خپلې شپې خونې ته، ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................................................................

د هغه تګ اوراتګ د رڼا په زړه کې خوږېده او د هغه سره یې مینه پیدا شوه.

وختونه تېرېدل او د دوی تر منځ مینه ډېرېده.

الک پوهنځی بشپړ کړ.

د هغه مور به کله نا کله کابل ښار ته راتله او د رڼا په کورکې به یې څو شپې هم کوې.

د رڼا مور، پلار او نوره کورنۍ یې د دوی پر مینه نه پوهېدل.

دا مینه خورا پټه وه.

د الک تګ او راتګ خورا لږ شو.

هغه د ځان له پاره کار او بار پیدا کړ او په هغه کې اخته شو.

رڼا به زورېده او سوچ یې کاوه چې، هغه له مینې تېښته کوي.

څه موده تېره شوه.

رڼا ته یوه روحي ناروغي پیدا شوه.

هرڅه به یې ماتول او نور به یې خوب ته هم نه پرېښودل.

د رڼا مور خپل مېړه ته و ویل:

رڼا په روحي ناروغۍ اخته شوې ده، ښه به وي چې هغه روغمن ته وبېسئ.

هغه ومنه او هغه یې روغمن ته ویوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې سره مور يې هم لاړه.

روغمن خپل معاينات تر سره او بيا يې د هغې مور اوپلار ته و ويل:
غواړم چې د ستاسو سره په پټه وغږېږم.
هغوی و منه او د کتنځي بلې خونې ته ننوتل.
روغمن د هغې د حرکاتو پوښتنه وکړه.
پلار يې و ويل:
زه مسافر او په اړه يې ښه نه پوهېږم.
مور به يې درته هر څه و وايي.
موريې د هغې د حرکاتو په هکله ټول څه و ويل.
بيا روغمن و ويل:
دا حرکات د پټو مينانو غوندې، دي.
کوم چې د کورنۍ غړي يې پرې نه پوهېږي.
بيا روغمن زياته کړه.
زه به ورته څه دوايې وليکم، ښه به دا وې چې تاسو ومومئ چې هغه پر چا مينه ده؟
بيا هغه واده کړئ، هر څه به په خپله سم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی ومنه ، د روغمن نسخه يې واخسته او د رڼا پلار خپلې ښځې ته و ويل:

ته دلته کينه.

زه درملتون ته ځم، دوايي اخلم او ژر بېرته راځم.

هغه دوايې واخسته او بېر ته کتنځي ته راغی.

دوايي يې روغمن ته وښوده؛

روغمن و ويل:

دوايي سمه ده.

تاسو هغې ته دوايي په ټاکلي وخت ورکړئ.

ستنې به ورته هر مازيګر په درملتون کې لګوئ.

دوايې يې چې خلاصه شوه، بيا به يې هرو مرو راولئ، تر څو وګورم چې څومره بدلون يې کړی دی.

هغوی و ويل:

سمه ده!

بيا روغمن زياته کړه:

هغه خوشحاله وساتئ.

کوښښ وکړئ چې هغه بوخته وساتئ.

هغې ته ښه خواړه او تازه مېوې هم ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه به ژر تر ژره روغه شي.

هغوی ومنه، د کتنځي نه و وتل او کور خوا ته روان شوو.

هغوی د روغمن خبرې د کورنۍ نورو غړو سره هم شریکه کړې.

هغوي کوښښ وکړ څرګنده کړی چې هغه پر چا مینه ده.

مګر و نه توانېدل په لنډه موده کې کومې پایلې ته ورسېږي.

څه وخت تېر شو او د هغې مور پرېکړه وکړه چې خپلې خور کورته چې په ختیځ ولایت کې اوسېده لاړه شي او څو ورځې الته تېرې کړی.

موریې د رڼا نه هم غوښتنه وکړه چې د هغې سره لاړه شي.

مور يې و ويل:

رڼا!

ته له ما سره ځې؟

رڼا و ويل:

چېرته؟

هغې و ويل:

ستا د ترور کور ته.

هغې و پوښتل:

د څو ورځو د پاره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور یې و ویل:

د یوې میاشتې له پاره.

بیا هغې و منه.

ورځ تېره او شپه شوه.

رنا خپلې مور ته و ویل:

څه وخت ځو؟

مور یې و ویل:

اوس شپه ده، سبا به لاړ شو.

هغې و ویل:

سمه ده!

شپه تېره او سبا شو.

مور یې وختي له خوبه پاڅېده.

اودس او لمونځ یې وکړ.

بیا یې پر رنا غږ کړ:

اله!

پاڅیږه!

سهار شو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې چې د خوب دارو (دوا) خوړلې وه، له خوبه پاڅېده او خپلې سترګې يې و مښلې.

بيا يې د اوبو کوزه واخيسته.

کوزه يې د څاه د اوبو څخه ډکه کړه او خپل مخ او لاسونه يې پرېمنځل.

بيا يې سور ټيکرى په سر او مور ته يې و ويل:

راځه چې لاړ، شو.

مور يې خپل زوى هم را ويښ، درې تنه (واړه) د چاى د څښلو نه وروسته له کوره و وتل او د رڼا د ترور کور په نيت يې حرکت و کړ.

هغوى په ښاري موټرو کې کېناستل او ښار ته ورسېدل.

بيا يې په پښو د ختيځو سيمو موټرو هډې خوا، لاړل.

اډې ته ورسېدل او په موټر کې وختل.

موټر لږ ځنډ وروسته ډک، له سراى نه را و وت او مخ پر ختيځ روان شو.

درې ګړۍ وروسته هغوى د رڼا ترور کور ته ورسېدل، هغې خپله دوا هم له ځانه سره اخيستې وه.

هغوى د سړک په غاړه له موټره کوز شوو، بيا د هغې د ترور کور خوا ته روان شو.

څه ځنډ وروسته هغوې د رڼا د ترور کور ته ورسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورور يې د کلا دروازه وټکوه.

دروازې ته د هغه د ترور کوچنۍ لور راغله او دروازه يې خلاصه کړه.

لمړی يې ټولو ته ستړی مشې او بيا يې و ويل:

اله!

کور ته د ننه شئ.

اوا (هوا) سړه ده.

کېدای شي ناروغه شئ.

د رڼا مور و ويل:

مننه!

مونږ د يخنۍ سره عادت يو.

زمونږ ساړه نه کيږي.

بيا ټول کور ته د ننه شوو.

د رڼا ترور هم راغله او د هغوی سره يې په غولي کې روغبړ وکړ.

بيا يې هغوی ته د ميلمه کوټې ته د ننوتلو بلنه ورکړه.

هغوی ټول کوټې ته د ننه شوو او پر توشکو کېناستل.

لږ څنډ وروسته د رڼا مور خپلې خور خوا ته نږدې شوه او په غوږ کې يې هغې ته د رڼا د ناروغۍ کيسه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه یې پوی کړه چې نورو ماشومان هم په دې خبره پوی او هغې ته آزار ور نه کړي.

ځو ورځې تېرې شوې بیا هغوی د رڼا د تره کورته لاړل تر ځو د رڼا سوچ په بل (بدل) شي.

یوه ورځ د کلي پېغلو پرېکړه وکړه چې د رڼا د خوشحالۍ د پاره څه پاخه او نږدې زیارت ته لاړ شي.

هغوی سابه او جواری پاخه او له ځانه سره یې په کټوو، دېګیو کې واخیستل.

هغوی کاسې هم له ځانه سره واخستې.

رڼا ولیدل چې هرې جلۍ په سر کټوه یا دېګۍ اخستی دی.

هغې اخوا او دېخوا وکتل:

څه یې و نه موندل.

بیا یې یوه درنه پیټه تیږه ومونده، په سر یې کېښوده او د نورو جونو سره روانه شوه.

په لاره کې یې په شعر ویلو پیل کړ.

هغې داسې شعر و ویل:

دا کوم دی ګاډه ور
دا کوم دی خیټه ور
دا کوم دی چې ځلیږی لکه لمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



جونو به څه نه ويل چې هغه خپه نه شي.

هغوی زيارت ته ورسېدل او يوه شين ځای يې و موند.

کټوې او دېګي يې له سرونو کوز او پر ځمکه يې کېښودل.

بيا يې د جواريو ټکری (ټوکری) هم واخيسته او د کټوو خوا ته يې کېښوده .

سابه يې په کاسو کې و وېشل او يوې به بلې ته ست کوه چې په خوړو پيل کړي.

ټولې جونې سره راغونډې شوې او رنا ته يې و ويل:

ته هم خپله تيږه له سره کښته کړه او د کټوو خوا ته يې کېږده.

هغې و ويل:

زه يې نه کښته کوم.

بيا مې له ياده و ځي.

جونو ويل:

کومه ستونزه نه شته.

مونږ په کور کې ډېرې ښکلې تيږې لرو.

ته کولای شې هغه واخلې او دا تيږه دلته پرېږدې.

هغې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................

نه!

دا تيره ما خوښه کړې ده.

چېر ته يې نه پرېږدم.

هرو مرو يې له ځانه سره بېر ته، کور ته وړم.

جنو و ويل:

سمه ده!

جواری واخله او د سبو سره يې و خوره.

هغه څو دکيکی چپه پاتې شوه.

بيا يې تيره پر سر سمه، د سبو کاسې ته کيناسته او په خوړو يې پيل کړ.

ميله خلاصه او جونو و ويل:

اوس مازيګر نږدې دی.

راځئ!

ورو، ورو بېرته کور خوا ته روان شو.

جونو کټوې، دېګي او کاسې راغونډې او په سرو يې کېښودې.

رڼا هم خپله ټيره د سر منځ راوسته.

ودرېده او د نورو پسې روانه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کوم ځای کې به چې یې د ویالې نه خیز اچوه، تیږه به یې په راسته لاس کلکه نیوه تر څو و نه غورزیږي.

ټول خپلو کورونو ته ورسېدل، هرچا خپلې کاسې، دېګي او کټوې خپلو کورونو ته ویوړې او په ټاکلو ځایونو کې یې کېښودل.

رڼا هم خپله تیږه کور ته د ننه کړه او مور ته یې و ویل:

دا زما د خوښې تیږه ده، چېر ته یې کېږدم.

مور یې و ویل:

د باندې په انګړ کې یې کېږده.

هغې ونه منه او تیږه یې کوټې ته د ننه کړه، پر توشکې یې کېښوده او و یې ویل:

د دې تیږې ځای توشکه ده، نه ځمکه.

بیا یې بالښت را واخیست او د تیږې تر شایې کېښود.

اخوا، دېخوا یې وکتل او ویې ویل:

نن  دا زما میلمه دی.

اوس به ورته چای هم راوړم.

رڼا د کوټې نه و وته او له نغري نه یې چایبر(چایجوش) را واخیست او د تیږی مخی ته یې کېښود.

بیا یې پیاله را واخیسته او هغه یې هم د چایبر خوا ته نږدې کېښوده.

وروسته یې تیږې ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................

ځانته دې چای واچوه.

د تیرې غږ و نه خوت.

بیا په غصه شوه او ویې ویل:

ته په خبره هم نه پوهیږې.

زه به درته چای واچوم.

هغې په پیاله کې چای واچوه او د میتیانو کتۍ (قوتۍ) یې هم ورته نږدې کړه.

بیا یې تیرې ته و ویل:

څه درباندې شوي؟

وخوره!

ولې ماته ګورې؟

خلک رښتیا وایې:

چې نه ځې، په شا به دې کړم او که نه یې خورې، څنګه به دې کړم؟

د کورنۍ غړو به ور ته کتل او څه به یې نه ویل.

هغوی ټول پوهېدل چې رڼا په روحي ناروغۍ اخته شوې ده.

څه موده تېره شوه او هغه مخ په روغېدو شوه.

مور، ورور، د تره ښځه او ماشومان هم خوشحاله شول.

څه موده نوره هم تېره او هوا مخ په تودېدو شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی پرېکړه وکړه تر څو بېرته کابل ته لاړ شي.

دوې ورځې وروسته هغوی بېرته کابل ته لاړل.

د رڼا په کړنلارو کې بدلون راغلی و.

د کورنۍ ټول غړي ډېر خوشحاله شول.

یوه ورځ ورسته بیا د هغې پلار د رڼا سره یو ځای د روغمن کتنځی ته لاړل.

روغمن هغه ولیده او د هغې سره یې خبرې وکړې.

بیا بله، ورستۍ نسخه یې هغې ته ولیکله او ویې ویل:

دا نسخه د درې میاشتو له پاره ده.

د خلاصېدو سره به هغه په روغه رمټه شي.

کوښښ وکړئ تر څو هغه خوشحاله او بوخته وساتئ.

د هغې پلار و منه.

بیا یې د روغمن سره خدای پاماني وکړه او د کتنځي نه دواړه کښته شوو.

په درملتون کې یې دوایي واخسته او کور خوا ته روان شوو.

میاشت بله هم تېره شوه او رڼا بېرته خپلې لمړنۍ بڼې ته راغله.

هېڅ تن سوچ نه کوه چې هغه کوم وخت ناروغه شوې وي.

وختونه تېرېدل او هغه لوېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه موده وروسته کشره خور یې واده شوه.

بیا په هېواد کې حالات کړکېچن شول.

تنظیمي جګړې پیل شوې.

کابل ښار په څو برخو و وېشل شو.

ځینې برخې یې د اسلامي ګوند، ځینې یې د جمعیت اسلامی او لوېدیځې سیمې یې د وحدت اسلامي ګوند په لاس کې پرېوتې.

په ورځو، ورځو به هاوانونه او راکټونه ورېدل.

د ښار د یوې څنډې نه بلې څنډې ته، تګ خورا دروند و.

خلکو به د اوربند په ورځو کې خپل کالي او د کور سامانونه له یوه ځای نه بل ځای ته لېږدول.

ښار کې د څو ورځو له پاره اور بند ټینګ شو.

د هغې د ترور زوی له چهار آسیاب سیمې نه، کومه چې د اسلامي ګوند په ولکه کې وه، راغی.

هغه خپلې ترور ته و ویل:

ما د رڼا له پاره یوه کس لیدلی دی.

هغه زه، د رایبارۍ له پاره ولېږلم.

هغه ښه سړی او تکړه دهقان دی.

هغه بله ښځه او یوه لور هم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

د هغه زوی په تنظیمي جګړو کې شهید شو.

اوس د هغه اولاد نه کیږي، نو ځکه غواړي بله ښځه وکړي.

د رڼا مور و ویل:

ته پوهیږې چې د رڼا پلار په حق رسېدلی (مړ شوی) دی.

زه کونډه او د ډېرو غمونو، توان نه لرم.

هرې خوا جګړې دي.

د رڼا د ترور زوی و ویل:

زه د هر څه ضمانت کوم.

ټولې چاری به ښې تر سره شي، هغه به په کور ناسته، پخوانۍ ښځه به یې د باندې کارونه او لور به یې د ننه کور کارونه کوي.

هغې و ویل:

ښه به وي چې دا خبره د رڼا سره هم شریکه او پوی شو، ترڅو د هغې سوچ په دې هکله څه دی؟

**هغه ومنه!**

مور یې بلې خونې ته لاړه چېرې چې رڼا په کې ویده کېده.

هغې د رڼا سره مشوره و کړه.

رڼا و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

ما ته ځو دکیکې وخت راکړه تر څو د خپل د تره او د تره لورګانو سره په دې هکله مشوره و کړم.

مور یې و منه او له کوټې د باندې شوه.

یوه ګړۍ وروسته رڼا خپلې مور ته غږ کړ.

موریې د هغې کوټې ته لاړه.

رڼا و ویل:

زه په دوې شرطونو سره موافقه یم.

١. زما د ترور زوی څه یې چې وېلي دي، ضمانت وکړي.
٢. هغه محبور دی چې د دود سره سم ما ته سره زر واخلي.

مور یې د هغې د ترور زوی ته د رڼا خبره وکړه.

د هغې د ترور زوی و ویل:

سمه ده!

زه یې ضمانت کوم.

د رڼا د ترور زوی دشپې پاتې او سهار وختي له ترور، د ترور د ځامنو او لور ګانو نه یې خدای پاماني واخسته او ویې ویل:

مونږ به ډېر ژر رایباری ته راشو.

دوې ورځې تېرې شوې.

د رڼا رایباران راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا هغوې ته چای دم او راوړ.

بیا رایبارانو و ویل:

تاسو پوهیږئ چې حالات ښه نه دي او مونږ نه شو کولای بیا، بیا راشو.

ښه به وي چې مونږ ته د دود سره سم دسمال راکړئ، مونږ ستاسو ټولې غوښتنې په سترګو منو.

د رڼا مور بیا له هغې سره خبره وکړه او ویې ویل:

کولای شو، هغوی ته دسمال ورکړو.

هغې و ویل:

هو!

سمه ده!

توکل په خدای!

بیا د رڼا مور د بکس نه ښکلی پخوانی دسمال راوباسه او زوی ته یې غږ کړ:

دغه ۱۰۰ افغانۍ واخله او د نږدې هټۍ نه خوږه (چاکلیټ) راوړه.

د رڼا ورور پیسې واخستې او د کوره د باندې شو.

څو دکیکی وروسته راغی او خوږه یې خپلې مور ته ورکړه.

مور یې خوږه په دسمال کې تاوه او مجمې کې یې کېښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................

بیا یې مجمه د رایبارانو مخې ته کېښوده.

رایبارانو دسمال واخست او څه پیسې یې په مجمې کې کېښودې.

بیا یې مننه وکړه او له ځایه پاڅېدل.

په دې وخت کې د رڼا د ترور زوی و ویل:

مونږ ځو او د کوژدې بندو بست کوو.

تاسو هیڅ شی د رڼا د پاره د جیز په نامه مه اخلئ.

مونږ ټول خرڅ په خپله کوو.

هغوی د کوره و وتل.

څو ورځې تېرې شوې.

جګړه بیا پیل شوه.

د سیمې خلک خپلو کورنو پرېښودو ته اړ شوو.

د رڼا کورنۍ هم د کابل ښار نه و وته او ختیځ ولایت ته کډواله شوه.

څو ورځې وروسته د رڼا د خوښې الک هم ختیځ ولایت ته کډه شو.

هغه په دې وخت کې واده کړی و.

رڼا خپلې ترور کور ته روانه وه، په ناڅاپي ډول یې سترګې په هغه الک و لګېدې.

سوچ یې کوه چې هغه به نه وي، څو ځل یې هغه ته په ځیر سره وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................

پوه شوه چې په خپله دی.

بیا بېرته کور ته ستنه شوه.

خپلې کورنۍ ته یې و ویل:

ما نن هماغه الک ولید کوم چې زما خوښ راته.

ټولو ورته و ویل:

هغه پسې نوره مه ګرځه.

هغه واده کړی دی او ستا کوژده به هم ژر تر ژره تر سره شي.

هغې څه و نه ویل.

د شپې او ورځې به یې سوچونه کو.

هغې خپلې مور ته و ویل:

زه کوژده نه کوم.

زه غواړم د خپلې خوښې الک سره واده وکړم.

هغه به هره ورځ د خپلې ترور کور ته، تله تر څو هغه الک په لاره کې و ویني.

د هغې د شپې خوب وران او ټوله شپه به یې سوچونه کول تر څو بیا د لمړی ځل په شان ناروغه شوه.

بې ځایه خبرې به یې کوې او هر څه به یې ماتول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مينې تاو

.....................................................................

د رڼا کورنۍ چې اقتصادي حالت يې هم ټيټ شوی و، په نويو ستونځو وا وښتل.

له يوې خوا بې کوري، بلې خوا بې روزګاري، جګړه او د رڼا ناروغي.

دا ټول د رڼا په کورنۍ يې منفی اغېزې کړې وې.

ټول خورا خپه وو.

د رڼا کورنۍ کوښښ کوه چې هغې ته درمل واخلي او خدای، خدای به يې کوه چې د هغې د مېړه کورنۍ راشي او د هغې واده تر سره کړي.

په کابل کې جګړه لړه شوه او خلکو بېرته خپلو سيمو ته تګ پيل کړ.

د رڼا د خوښې الک هم لمړی کابل بيا کندهار او وروسته د ّپواد نه بهر ته لاړ.

د رڼا هڅې نا هيلې (ناکامې) شوې.

څو ورځې وروسته د رڼا ترور زوی راغی او د هغې مور ته يې و ويل:

څو ورځې به صبر وکړو تر څو رڼا بېرته روغه شي.

رڼا به ځمکو ته تله.

کله نا کله به يې شعرونه هم ويل.

يوه ورځ په پوله يوه کس تېرېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا سوچ وکړ چې هغه په پټي کې روان دی.

هغې دا زوړ او فلکلور شعر و وايه:

دې پولې په  سر لاره ده
منځ د پټي چرا مې روي

بيل ده بغل خات زدم
بوک به دې راواړوم

کس هک پک پاتې شو.
له ځانه سره يې و ويل:
آفرين!
بې له شکه چې په ښځو کې هم شاعراني پيدا کيږي.
هغه خپلې لارې ته دوام ورکړاو د رڼا د سترګو نه پناه شو.

مياشت تېره شوه او رڼا مخ په ښه کېدو شوه.

هغه بېرته ښه شوه.

د هغې د ترور زوی د پرېکون له پاره راغی.

پرېکون تر سره او بيا د واده وخت و ټاکل شو.

اونۍ تېره شوه او واده هم تر سره شو.

رڼا د خپل بخت پسې لاړه .

د هغې د مېړه کور د کابل په چهار آسياب ولسوالۍ کې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله نا کله به د کوره وته، په ځمکو او باغ کې به ګرځېده.

خلکو به هغې ته ښونکې ويل.

هغه په خپل ژوند کې خوشحاله وه.

يونيم کال وروسته د واده، هغې ته خدای زوی ورکړ او د هغه نوم يې پرې هجرت کېښود.

الک لږ لوی او په پښو شو.

له بده مرغه جګړې بيا پيل او ډېري شوې.

خلکو هم د چهار آسياب د ولسوالۍ نه کډه وکړه او ختيځو ولايتونو

ته کډه شوو.

د رڼا نوې کورنۍ هم ختيځ ولايت ته کډه او التـه يې څه ځمکه د کرنې د پاره ونيوه.

زوی يې لږ لوی شو.

د هغې اړيکې د بنې سره يې ترينګلې شوې.

هغې خپل زوی واخيست او د مور کورته لاړه.

ميړه به يې کله نا کله د هغې پسې راته.

رڼا نه غوښتل چې بېرته خپل خاوند کور ته لاړه شي.

کال بل هم تېر شو.

د رڼا مېړه د هغې مور کور ته راغی، او ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه خپل زوی پسې ډېر خپه شوی یم.

غواړم چې هغه او مور یې زما سره لاړ شي.

د رنځا مور و ویل:

مونږ کومه ستونزه نه لرو.

ته هر کله کولای شې چې خپله ښځه او زوی بېرته کور ته یوسې.

په دې وخت کې رنځا و ویل:

زه خو ځم، مګر زما ښه پرما ظلم کوي.

هغه و ویل:

ته هم یوڅه پړه (ملامته) یې.

ته باید د هغې سره د کور یا د باندې په کروندو کې مرسته وکړې.

د رنځا مور و ویل:

دا ښه وايي.

ته هم باید د هغوی سره د خپل په وس مرسته وکړې.

هغې و منه.

بیا د هغې ورور و ویل:

اوس کولای شې، خپل کور ته لاړه شې.

د رنځا زړه نه کېده او هغه د خپلې مور سره خوشحاله وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورور یې بیا غږ کړ او ویې ویل:

ژر شه!

خپل کور ته لاړه شه.

رڼا خپل زوی په غېږ کې و نیو او مېږه ته یې و ویل:

دغه د ماشوم پنډکی له ځانه سره واخله.

هغه هم پنډکی له ځانه سره واخیست او خپلې خوابښې، د کورنۍ نورو غړو نه یې خدای پاماني واخسته او خپل کور خوا ته روان شوو.

کال درې تېر شو.

الک د ښو ونځي د تګ شو.

په کلي کې ښوونځی نه و.

د ولسوالۍ په بل سر کې لمړنی ښوونځی و، کوم چې د هغوی له کورونو نه ډېر لرې شتون درلود.

الک نور هم لوی شو او په کروندو کې به یې له پلار او میرې سره مرسته کوه.

د رڼا پر هغه پېرزوینه نه وه چې هغه په کروندو کې، کار وکړي.

هر چا سره به یې مشورې کوې چې څنګه وکړي الک پوی او پر هغه ښونځی و وایي.

خلکو به هغې ته ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................................................................

دا کار ناشونی دی.

دلته کوم ښوونځی نه شته او له بلې خوا ستا خاوند هم ناروغه دی.

الک د هغه سره په کروندو کې مرسته کوي.

هغې و نه منه او خپل مېړه ته یې و ویل:

زه غواړم چې پر هجرت ښونځی و وایم تر څو هغه روغمن او یا انجینر شي.

مېړه یې و ویل:

زه هم غوړام، مګر د اوس له پاره کوم امکانات نه لرم.

هغې و ویل:

زه بېرته کابل ته ځم او غواړم خپلې مور سره مې ژوند وکړم.

مېړه یې و ویل:

ته چې ځې، کولای شئ.

زه هجرت نه پرېږدم چې له تا سره لاړ شي.

بیا رنا په غصې شوه او له کوره و وته.

هغه لمړی خپلې ترور بیا خپل تره کورته لاړه.

د هر چا سره به یې مشورې کوې.

خلکو به هغې ته ویل:

خپل ژوند مه ورانوه، چا چې ښوونځی لوستې دي ټول وزګار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې به نه منه.

هغه بیا خپل مېړه کور ته لاړه او غوښتل یې چې الک له ځانه سره واخلي.

هغه غولي ته د ننه شوه او الک یې د لاسه ونیو، غوښتل یې چې له ځانه سره یې له انګړه و باسي.

په دې وخت کې د هغې خاوند کور ته د ننه شو او الک یې د هغې د لاس نه خلاص او کوټې ته یې د ننه کړ.

بیا یې هغې ته و ویل:

ته کولای شې، دلته پاتې شې.

د الک د وړلو اجازه نه لرې.

هغې و ویل:

زه الک د قانون په زور د تا نه اخلم.

هغه و ویل:

زه!

لاس دې خلاص.

بیا یې رښا ته و ویل:

چابکه له انګړ نه و وځه، زما بله ښځه که راغله، پر تا به غوبل جوړ کړي.

هغې و منه او له کوره و وته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ورځې وروسته يې موضوع د ولسوالۍ اړوندو کسانو سره شريکه کړه.

هغوی و ويل:

ته عريضه وکړه او مونږ به ستا زوی بېرته تا ته تسليم کړو.

هغې ومنه او د ولسوالۍ نه د باندی شوه.

بيا يوه کس چې ولسوالۍ ته نږدی پر څوکې ناست، چترۍ يې د ميز پر سر ځوړنده وه او څو عريضې او کلمونه يې پر ميز و، نږدې شوه .

لمړی يې هغه ته سلام واچاوه او بيا يې و ويل:

زه غواړم چې ما ته عريضه و ليکئ.

هغه و ويل:

سمه ده!

خپله ستونزه بيان کړه، زه به يې وليکم.

هغې خپله ستونزه و ويله، بيا هغه کس ورته په اصولو سره سم عريضه و ليکه.

عريضه خلاصه او رڼا ته يې و ويل:

دا ده!

ستا عريضه!

هغې عريضه واخسته او کس ته يې سلګون ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................

هغه ترې دېرش افغانۍ وګرځوې او نورې پيسې يې ببېرته ورکړې.

هغې عريضه په ځانګړو شعبو وګرځوه.

قاضي هغې ته يې و ويل:

سبا وختي راشه!

مونږ به له تا سره څو پوليس سيمې ته ولېږو.

هغوی به تا سره مرسته وکړئ تر څو ستا زوی ببېرته درکړي.

قاضي زياته کړه.

له ځانه سره څو تنه نږدې نارينه هم راوله.

هغې ومنه او کلي ته راونه شوه.

په کلي کې يې خبره د نورو سره شريکه او څو کسانو ورته وعده ورکړه تر څو د هغې سره سبا ولسوالۍ ته لاړ شي.

شپه تېره شوه او سبا شو.

هغه هم د کسانو سره ولسوالۍ ته لاړه.

قاضي هغې ته د پوليسو موټر چمتو کړی و.

بيا يې هغې ته و ويل:

په موټر کې کښېنه او نور خپلوان دې چې هم راغلي دي، په موټر کې دې کښېني.

هغوی ټول موټر ته وختل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا د پوليسو يو موټر د مخه او بل يې ورپسې شو.

نيمه ګړۍ وروسته هغوی سيمې ته ورسېدل.

پوليسو سيمه کلا بنده کړه.

بيا د پوليسو مشر د رڼا او د خپلوانو سره يې د هغې کور ته د ننه شوو.

الک په کور کي نه و.

له ماشو مانو نه يې و پوښتل:

هجرت چېرته دی؟

هغوی و ويل:

هغه په کروندو کې خېشاوه کوي.

بيا رڼا پوليسو ته و ويل:

زما پسې راشئ.

کرونده د سيند په غاړه ده.

بيا رڼا مخکې او پوليس ور پسې شوو.

د الک خوا ته ورسېدل.

الک چې پوليس وليدل په منډو يې پيل کړ.

پوليسو پرې غږ کړ.

ودرېږه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و نه درېد.

بیا پولیسو ورپسې منډې کړې.

د الک پښه له پولې وښوېده او وغورځېد.

پولیس ورسېدل او هغه يې ونيو.

بیا ورو، ورو پوخ سړک ته لاړل، چېرته چې د پولیسو موټر ولاړ وو.

هغوې ټول موټرو ته پورته شوو.

لمړی ولسوالۍ ته لاړل.

التـه د بریالي عملیاتو راپور یې وړاندې کړ.

بیا قاضي رڼا ته و ویل:

دا دې زوی!

هر څېرې يې چې بیا یې، ستا خوښه.

زه درته د موټر مرسته کوم چې تا تر خوندي ځایه پورې ورسوي.

هغې سوچ وکړ چې د اوس له پاره خوندي ځای د رڼا د تره د لور کور دی، کوم چې ولسوالۍ ته ډېر نږدې دی.

بیا یې قاضي ته و ویل:

د اوس له پاره غواړم چې د تره لور کورته لاړه شم، بیا وروسته کابل ته ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضي و ويل:

کومه ستونزه نه شته.

هر څېرې چې ته خوشحاله يې.

بيا قاضي د موټر چلونکي ته و ويل:

رڼا او د هغه خپلوان د هغې د تره د لور کورته و رسوه.

بيا چې بېر ته راغلې، ماته اطمينان راکړه.

چلونکي و ويل:

سمه ده!

قاضي صاحب!

چلونکي هغوی تر ټاکل شوي ځای پورې ورسول او خپله يې بېرته ستون شو.

د رڼا خپلوان او کليوال بېرته خپلو کورونو ته لاړل.

رڼا او د هغې زوی د درې شپو له پاره التـه وو.

بيا رڼا خپلې پلارنۍ مينې ته راغله.

التـه دوستان او خپلوانو يې د هغې هرکلی و کړ.

پر هغې او زوی يې ګلونه او خوږه و شينده.

څو شپې يې د تره او د تره د ځامنو کورونو کې تېرې کړې.

بيا يې پرېکړه و کړه چې کابل ښار ته خپلې خور کور ته لاړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لمړی کابل ښار، بیا خپلې خور کور ته لاړه.

البته يې هم تود هرکلی وشو.

څو ورځې تېرې شوې.

هغې خپلې خور ته و ويل:

زه غواړم چې هجرت په ښوونځي کې شامل کړم.

خور يې و ويل:

کومه ستونزه نه شته.

خو!

د الک سن اوچت دی.

رڼا و ويل:

زه غواړم چې پر هغه ښوونځی و وايم تر څو روغمن او يا هم انجينر شي.

ما د ولسوالۍ قاضي ته هم داسې ويلي دي.

خور يې و ويل:

ستا خوښه.

زه کومه ستونزه نه لرم.

د ښوونځي خرڅ يې هم زه په غاړه اخلم.

د شپې چې د خور مېړه يې راغی، خور يې هغه ته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا وختي هجرت نږدې ښوونځي ته يوسه او الته يې شامل کړه.

هغه ومنه.

شپه تېره او سهار شو.

رڼا د خور مېړه و ويل:

د چای د څښلو نه وروسته زه به هجرت ښوونځي ته بوزم.

څه ځنډ وروسته د رڼا د خور مېړه او هجرت د کوره و وتل.

څو دکيکې وروسته هغوی ښوونځي ته ورسېدل.

هغوی د ښوونځي مدير خونې (دفتر) ته ننوتل او الته يې د هجرت په اړه وغږېدل.

لمړی، د ښوونځي مدير و نه منه.

هغه و ويل:

د هجرت سن تر ټولو اوچت دی او هغه په پاړسی (دري) هم نه پوهېږي.

بيا په دې وخت کې د رڼا د خور مېړه څو ځايه ټيلفونونه وکړل او مدير يې دې ته اړ کړ ترڅو هجرت په ښوونځي کې و مني.

د رڼا خويندو هغه ته د ښوونځي کالي، کڅوړه (بيک) کتابونه، کتابچې او کلمونه واخيستل.

هجرت ښوونځي ته، په تلو پيل کړ.

په کور کې به هغه د رڼا د خور مېړه نه هم درس (سبق) وايه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ځو ورځې ښوونځي ته لاړ.

د هغه مینه د ښوونځي سره نه، بلکه د ځمکو سره وه.

هغه به په کور کې سبق نه وایه.

کله به چې د ښوونځي نه بېرته راته، په غولي کې به یې د ګلانو اوترکارۍ پالنه کوه.

څه وخت تېر شو.

هغه خپلې مورته و ویل:

زما سبق نه زده کېږي، نه غواړم چې ښوونځي ته لاړ شم.

هغې و ویل:

نه!

ته باید ښوونځي ته لاړه شئ.

ته باید روغمن او یا انجینر شئ.

هغه و ویل:

ټول دلته په پارسي خبرې کوي.

په ټولګي کې پښتانه، نه شته.

زما زړه په چاودېدو راغلې دی.

مور یې و ویل:

نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې نه کيږي.

ته به عادت شئ.

ته به، پاړسي هم زده کړې.

زه هم تا سره مرسته کوم.

هغه خپه او په سوچ کې و.

کومې پيسې چې به ورته د رڼا خويندو، ورونو او دوستانو د ښوونځي خرڅه ورکوه، هغه به يې ټولوې او مور ته به يې په دې هکله څه نه ويل:

شپږ مياشتې تېرې شوې.

هغه يوه ورځ له ښوونځي نه وختي راغی.

مور يې ورته و ويل:

څنګه بېرته راغلې؟

هغه و ويل:

لږ پر سر مې درد و.

هغې ورته دوايې ورکړه او هغه ته يې و ويل:

سمه ده!

ته لږ دمه وکړه.

کوټې ته لاړ او بيده شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کوټې ته لاړ او په سوچونو یې پیل کړ.

مور یې څو ځلې د هغه پوښتنې ته لاړه.

د شپې د ډوډۍ خوړو نه وروسته الک وختي بیده شو.

سهار مور یې وختي د لمانځه ادا کولو د پاره پاڅېده او خپل زوی یې هم راویښ کړ.

هغوی لمنځونه وکړل.

مور یې هجرت ته و ویل:

ته بیده شه!

نن ښوونځي ته مه ځه.

هجرت و ویل:

نه!

زه هرو مرو ښوونځي ته ځم.

زه په سبقونو کې وروسته پاتې کېږم.

مور یې و ویل:

سمه ده!

څرنګه چې ته خوشحاله یې.

بیا وروسته هغه ته د سهار تود چای، نور خواړه راوړل او هغه په مزې سره وخوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موريې د کور په کارونو بوخته شوه.
هغه د کور د کاليو سربېره د ښوونځي کالي واغوستل.
مور يې ورته ويل:
نن چې کورته راغلې زه به درته د چرګ ښوروا (يخني) پخه کړم.
هغه په خندا او ويې ويل:
سمه ده!
هغه د کوره و وت او ښوونځي خوا ته روان شو.
ښوونځي ته نږدې يې خپل پطلون و باسه او کڅوړه يې هم د پطلانه خوا ته کېښوده.
بيا په پوښتنه، پوښتنه له کابل ښار نه و وت او خپلې پلارني ځای ته لاړ.
غرمه شوه.
رڼا خوندوره ښوروا پخه کړې او د هجرت په تمه وه.
هره دکيکه به يې شمېره او ګړی ته به يې کتل.
نيمه ګړی له غرمې نه هم تېره شوه.
هغه سوچ کې شوه چې ولې هجرت ځنډ وکړ.
بيا يې خپلې خور ته و ويل:
هجرت څنګه ځنډ وکړ؟
هغه لږ ناروغه هم و.
هغه هم خپه شوه او خپل مېړه ته يې زنګ و واهه.
مېړه يې و ويل:
تاسو ښوونځي ته لاړ شئ او پوښتنه وکړئ چې ښوونځي ته تللی دی او که نه؟
رڼا ښوونځي ته لاړه.
الته يې د سر ښونکي نه پوښتنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د ټولګي ښونکی وغوښت.
ښونکي و ويل:
نه!
هغه ښوونځي ته، نه دی راغلی.
بيا رڼا زياته کړه.
هغه لږ ناروغه و، ما ورته و ويل چې ښوونځي ته مه ځه، نن دمه وکړه، سبا به لاړ شې.
هغه و نه منه او ښوونځي ته لاړ.
ښونکی او سر ښونکی هم خپه شوو.
بيا يې و ويل:
تاسو موضوع د روغتونو او پوليسو سره شريکه کړئ.
رڼا له شوونځي خپه و وته او ببرته کور ته راغله.
کيسه يې خپلې خور ته وکړه.
په دې وخت کې د هغې د خور مېړه هم ورسېد.
هغه ځو روغتونو ته زنګ و واهه او کومه پته يې و نه مونده.
بيا يې رڼا ته و ويل:
کېدای شي خپلې ترور کور ته تللی وي.
رڼا خپلې بلې خور او ورونو ته هم زنګونه و وهل:
هغوي و ويل:
نه!
زمونږ کور ته نه دی راغلی.
هغوی هم خپه شول.
بيا ټول دوستان او خپلوان سره راغونډ شوو.
هغوی و ويل:
کېدای شي، هغه ببرته پلارنۍ سيمې ته تللی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا و ويل:
دا ممکنه نه ده.
د هغه سره پيسې نه وې.

بيا ټولو رڼا ته داسې مشوره ورکړه.
ته سبا وختي د هغه د پلار سيمې ته لاړه او د نږدې ګاونډيانو نه تپوس وکړه، بيا مونږ ته خبر راکړه.
که چېرې هغه الته نه وي تللی، مونږ به دلته ورپسې وګرځو.
هغې ومنه او سهار وختي د الک پلار سيمې په لورې يې، حرکت وکړ.
څو ګړۍ وروسته هغې خپلې خور ته زنګ و واهه او ويې ويل:
الک خو رسېدلې دی.
څه وکړم؟
خور يې و ويل:
بېرته راشه او هېڅ مه کوه.
هغه ناوخته، بېرته کابل ته راغله.
ډېره خپه وه.
شپه تېره او سهار وختي د خپلې بلې خور کورته لاړه او د هغې نه يې و غوښتل چي په دې هکله، هغې ته لار ښونه وکړي.
هغې و ويل:
ټول شيان په نصيب او قسمت پورې اړه لري.
کېدای شي د هغه په نصيب کې دهقاني وي.
ته نه شئ کولای چې هغه روغمن او يا انجينر کړې.

هغې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه بیا هڅه کوم چې هغه بېرته راولم.
خور یې ورته و ویل:
داسې امکان نه لري، که ته لس ځلي هم هغه راولې، بیا درنه ځي.
ښه به وي چې ته هم الته لاړه او د هغوې سره ګډ ژوند وکړئ.

هغې ونه منه.
څو ځلي الته لاړه.
الک د هغې سره بېرته را نه غي.

رڼا د خپلې خور په کور کې ژوند کوه، او کله نا کله به د زوی د لیدو د پاره خپل مېړه کور ته تله.
کال تېر او مېړه یې د سرطان په ناروغۍ اخته او مړ شو.
دوې کاله وروسته د رڼا بنې وغوښتل چې هجرت ته واده وکړي.
د هغې بنې هڅې پیل او هغه ته یې برابره جلۍ ومونده.
څو ځلي یې د جلۍ کور ته یې رایباران ولېږل.
د جلۍ کورنۍ پرېکړه وکړه ترڅو خپله لور هجرت ته ورکړي.
لومړی یې دسمال، کوژده او کال وروسته یې واده وکړ.
هجرت خپل نوی ژوند پلارنۍ سیمې کې پیل کړ.
هغه اوس پنځه زامن لري.
په هماغه سیمې کې په کروندو کې کار کوي.

رڼا هم تر اوسه ژوندۍ ده.
هر څه چې یې ورونه، خویندې او دوستان ورکوي، هغه خپلو لمسیانو ته وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا راز د ځمکی حاصل کوم چې هغې ته د ورونو له خوا ورکول کېږي، هغه هم خپلو لمسيانو ته وړي.

رڼا کله ناکله د زوی کور ته ځي.
ډېری وخت هغه خپلو خويندو، خپلوانو او ترور کورونو ته ځي.
هر څه راټولوي او لمسيانو ته يې وړي.

که څوک ورته و وايي چې:
هغوي اوس پلار او مور لري، ستا مسوليت اوس پای ته رسېدلی دی.
ته بايد پيسې په ځان مصرف کړې.

رڼا په غصه کېږي او وايې:
ما خو په خپله خوښه مېږه نه دي کړی.
تاسو دهقان ته ورکړم.
ما خو روغمن او يا انجينر غوښته.
تاسو چې خپلو زامنو او لور ګانو ته خواړه او کالی راوړیځو زه هم خپلو لمسيانو ته هر څه راوړم.
زړه مې نه غواړي.
زما اوس هم هغه الک خوښ دی.
زه تاسو پړ بولم چې هغه ته مو، ور نه کړم.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاپ شويو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلايي
(برای اساتيد اانستيتوت های تخنيکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد اول
٥. رسم تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصيل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقليم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاريه/ دنيای انجينری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقيقی با مقياس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاوير مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنيا نگذاری اولين مساجد توسط افغانها در آسترليا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹. منار جام – الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معماری کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم
(جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣٩. برف ها آب ميشود
٤٠. رسم و تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد سوم
٤١. آرزو و اميد (ناول به زبان دری)
٤٢. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤٣. د اسلامي معمارۍ پيل
٤٤. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٥. حيوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دينی مولوی صاحب خيرالله مخدوم (جلد دوم)
٤٧. د شپيلۍ مينه (مه ينه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤٨. حشمت خان د کلا معماري
٤٩. د افغان الک او آذري جلۍ مينه (پښتو ناول)
٥٠. د وچو بنونه او پارکونو معماري
٥١. د يوې ښونکې مينان په يوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥٢. د ژرنده ګړي ماما مينه (پښتو ناول)
٥٣. په اسلامي نظام کې ودانيز پرمختګ
٥٤. شپېنه ادې (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مينې تاو (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کار لاندې کتابونو لېست

۱. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خيرالله مخدوم (جلد سوم)
۲. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
۳. په خپله ژبه (BIM) په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اېنجينېرانو(انجينرانو) له پاره
۴. ليونی لېوه
۵. کوشنۍ سوداګره
۶. سپين کارغه
۷. سور تنور
۸. خړه بيزو
۹. بندي مرغه
۱۰. توده بړستن
۱۱. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

**د امکان او وخت په صورت کې**

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# The circulation of love

Written by:
Architect PHD
Hashmatullah Atmar
January-2025/February -2025

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**